مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۲۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (څلور نویمه برخه)

### مـحـمـد ارسلان سلیمي

د مـحـمـد اسد خان زوی، په ۱۹۲۴ز کال کې په وردکو کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړي او بیا ئـې د کابل عربي دارالعلوم [1] لوستی دئ. په ۱۹۳۴ز کال کې په کندهار کې د پښتو ټولنې کارمند. په ۱۹۳۵ز کال کې د کندهار په محکمې کې کاتب. په ۱۹۳۶ز کال کې د اصلاح د کارمندانو غړی. په ۱۹۳۹ز کال کې د پښتو اکاډیمی غړی. په ۱۹۴۰ز کال کې د اتحاد قطغن د ورځپاڼې محرر. په ۱۹۴۳ز کال کې د آریانا انسایکلوپیدیا د پښتو د څانګې غړی. په ۱۹۴۴ز کال کې د پکتیا د ورانګې د ورځپاڼې محرر. په ۱۹۴۶ز کال کې د دایرة المعارف مرستیال رئیس. په ۱۹۴۸ز کال کې د باختر د خبري آژانس مرستیال مدیر. په ۱۹۴۹ز کال کې د قبائـیلو د ریاست د تبلیغاتو مدیر. په ۱۹۵۳ز کال کې د قبائـیلو د ریاست مرستیال رئیس. پښتـون نشنلیست. په ۱۹۵۹ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست مرستیال رئـیس. په ۱۹۶۱ز کال کې بیکاره وو. په ۱۹۶۵ز کال کې د عدلیې په وزارت کې اداري رئـیس. پښتو لیکوال او شاعر. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۶ نـېـټه وفات سو.

**استاد عبدالرؤوف فکري سلجوقي** : وګورئ : فکری

### حمیرا ملکیار سلجوقي

د عبدالله ملکیار ناسکه خور او د برګـِډ عبدالاحمد لور په ۱۹۱۳ز کال کې په غزني کې زېږېدلې ده. خصوصي زده کړې لرې. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د مشرانو جرګې (سنا) غړې. له صلاح الدین سلجوقي(په ۱۹۵۵ز کال کې د قاهرې له سفیر) سره ئـې وادهٔ کړی او تر ۱۹۶۳ز کال پورې په قاهرې کې پاتې سول. حمیرا په یو شمـېـر کنفرانسونو کې د افغانستان استازیتوب کړی لکه په ۱۹۵۸ز کال کې په کولمبو کې د افریقا – آسیا د ښځو کنفرانس، په ۱۹۵۹ز کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په دریيمي کمېټې کې او نورو کې ګډون کړی دئ. د ښځو د حقوقو فعاله.

### مـحـمـد ارشاد سلجوقي

د پوهاند فکري سلجوقي زوی په ۱۹۳۹ز کال کې د هرات په پای حصار کې زېږېدلی دئ. له دولسم ټولګي څخه فارغ سوی چې ښوونکی او هنرمند سو. د خپل پلار په لاس ئـې روزنه ولیدله او د هرات یو له مشهورو هنرمندانو څخه سو.

---

[1] -College of Arabic Scienecs



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۹۶۶ز کال کې ئــې د میناتورۍ جایزه وګټله او کار ئــې په پراخ ډول ننداري ته وړاندې سو. همدا شان د بهزاد او تیموري عصر د دود پر بنسټ ئــې په اوبلن رنګ، غوړ او پنسلي طرحې جوړې کړلې. دی د ښکلي خطاطۍ هنرپال او موسیقي غږوونکی هم دی چې دوتار غږوي.

## مــحمد صدیق سلجوقي

د صلاح الدین سلجوقي زوی دئ او د صلاح الدین له لومړۍ مېـرمنې څخه دئ چي په ۱۹۲۹ز کال کي په کابل کي زېـږېـدلی دئ. د کابل په پوهنتون کي ئــې تحصیل کړی دئ. د قاهرې په پوهنتون کي ئــې تأریخ او د لندن د اقتصاد په پوهنځي [2] کي ئــې زده کړې وکړې. په ۱۹۷۳ز کال کي په واشنګتن ډي سي. کي د افغان سفارت قـنسل. د داؤود پر مهال د باندنیو چارو مدیر. په ۱۹۸۰ز کال کي ئــې افغانستان پرېـښود او اوس د امریکا په متحده ایالاتو کي ژوند کوي.

## محـمـد صدیق رشید سلجوقي

د نعمت الله سلجوقي زوی په ۱۹۳۳ز کال کي زېـږېـدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کي د هرات له فخرالمدارس څخه فارغ سوی دئ. تر ۱۹۶۴ز کال پورې په همدې مدرسي کي ښوونکی وو. په ۱۹۶۹ز کال کي کابل ته وغوښتل سو. په ۱۹۶۹ز کال کي د معارف د وزارت د تعلیمي نصاب د ریاست د دیني مضامینو د برخي مشر. په ۱۹۷۸ز کال کي د ابو حنیفي د مدرسې ښوونکی. په ۱۹۷۸ز کال کي د معارف د وزارت د دیني ښوونځیو د څانګي غړی. په ۱۹۸۱ز کال کي پاکستان ته لاړ. په ۱۹۸۳ز کال کي ئــې د افغان مقاومت د کلتوري شورى د بنسټ په ایښودلو کي مرسته وکړه.د اسلامي شریعت پر بنسټ د تدریسي کتابونو په ګډون د یو شمېـر کتابونو مؤلف.

## استاد صلاح الدین سلجوقي

د مفتي سراج الدین زوی په ۱۸۹۵ز کال کي په هرات کي زېـږېـدلی دئ. په ۱۹۱۵ز کال کي د حبـیـبیي د ښوونځي د عربي او پاړسي ښوونکی. په ۱۹۱۶ز کال کي د هرات په محکمې کي مفتي. په ۱۹۱۸ز کال کي د هرات د معارف د مدیریت مدیر. په ۱۹۲۰ز کال کي د حـبـیـبـیـې په ښوونځي کي د پاړسي ادبیاتو ښوونکی. او په ۱۹۲۱ز کال کي د استقلال په لیسي کي. په ۱۹۲۳ز کال کي د اتفاق اسلام مدیر. په ۱۹۲۵ز کال کي د ثروت مدیر. په ۱۹۲۶ز کال کي د اعلیحضرت امان الله خان سکرتر. په ۱۹۲۹ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د مطبوعاتو مدیر. په ۱۹۳۱ز کال کي په بمبـئـې کي جنرال قـنسـل. په ۱۹۳۵ز کال کي په دلهي کي جنرال قـنسـل. په ۱۹۳۶ز کال کي د مطبوعاتو د ریاست رئـیس. په ۱۹۵۰ز کال کي په ولسي جرګې کي د هرات استازي. په ۱۹۵۳ز کال کي د مطبوعاتو د ریاست رئـیس. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۲ز کال پورې د قاهرې سفیر. فیلسوف، لیکوال او شاعر. د ګڼ شمـېـر آثارو مؤلف. د ۱۹۶۰ز لسیزې په وروستیو کي وفات سو.

## عبدالحق صمدي

په ۱۹۴۱ز کال کي د بلخ په ولایت کي زېـږېـدلی دئ. د شیر شاه سوري له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کي د هوایي ځواک په پوهنتون کي شامل سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کي ئــې د دوهم بریدمن په رتبې د شینډنډ په هوایي

[2] -London School of Economics


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډګر کې خدمت وکړ. په ۱۹۶۸ز کال کې د بګرام په هوايي ډګر کې وو. په ۱۹۷۰ز کال کې شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ او په همدغهٔ کال کې په مدافعهٔ هوايي کې خدمت وکړ. د هوايي مدافعي مشر. په ۱۹۷۵ز کال کې ئـې د ډګرمن رتبې ته ارتقاء وکړه او د دفاع د وزارت د تحقيق او مطالعي د مدير په توګه ئـې کار وکړ. په ۱۹۷۸ز کال کې د پوځي استخباراتو رئـيس. په ۱۹۷۹ز کال کې د پروان والي. د ۱۹۷۹ز کال د ډسمبر په مياشت کې په ختيځ جرمني کې افغان سفير. وادهٔ يې کړی دئ. په روسي ژبې خبرې کوي.

## حـبيـبـه «مسعود» صمدي

د سيد مـحـمـد امين مسعود خور او د سيد مـحـمـد سرور کونړي لور په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېـدلې ده. د ملالۍ له ليسې او د کابل پوهنتون د ساينس له پوهنځي څخه فارغه سوې ده. په ۱۹۵۷ز کال کې د ملالۍ د ليسې ښوونکې وه. خپله ماستري ئـې د کولمبيا له پوهنتون څخه اخيستې ده. د معارف د وزارت کارمنده. د زرغونې د نجونو د ليسې مديره. له سيف الرحمن صمدي سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

## ډاکټر سيف الرحمن صمدي

د محـمـد امين زوی. د حبيـبـې له ليسې څخه فارغ سوی دئ او خپل ليسانس، ماستري او دکتورا ئـې د امريکا په متحده ايالاتو کې ترلاسه کړي دي. د کابل پوهنتون د ساينس د پوهنځي استاد، وروسته مرستيال رئـيس او ددې پوهنځي رئـيس. په ۱۹۶۵ز کال کې د معارف د وزارت د مسلکي تدريساتو د رياست رئـيس. په ۱۹۶۷ز کال کې د معارف مرستيال وزير. په ۱۹۶۸ز کال کې په بنګاک، تايلند کې د يونسکو سلاکار، په ۱۹۷۱ز کال کې په عمان او لبنان کې. په ۱۹۷۷ز کال کې په پاريس کې د يونسکو د ساينسي ښوونې او روزنې د مديريت مدير. له مـېـرمن حبيـبـې مسعود صمد سره ئـې وادهٔ کړی دئ او څلور بچيان لري. اوس په پاريس کې ژوند کوي.

## سيد عبدالله سمندر

د پلچرخي د زندان مشر ساتونکی/ زندان بان؛ د ۱۹۸۰ز کال د جون په مياشت کې اعدام سو.

**سميعي** : وګورئ :سميعي

## وفي الله سميعي

په ۱۹۲۸ز کال کې د ننګرهار په شينوارو کې زېږېـدلی دئ. د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي ته تللی دئ او په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې خپله ماستري د الازهر له پوهنتون څخه ترلاسه کړله. د شرعياتو د پوهنځي پوهنيار. د شرعياتو د پوهنځي رئـيس او د کابل پوهنتون د محلصينو د چارو مرستيال رئـيس. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د معارف د وزارت دوهم مرستيال وزير. په ۱۹۷۶ز کال کې په پاکستان کې د سيرت النبي لومړني کلني کنفرانس ته پلاوی. په ۱۹۷۷ز کال کې د عدليې وزير. په ۱۹۷۷ز کال کې په مکه کې د اسلامي مطالعاتو کانګرس ته د افغان پلاوي مشر. مصر او سعودي عربستان ته د ولسمشر محمد داؤود سفر مل ملګری. د ۱۹۷۸ز کال د مي په لومړيو کې ووژل سو. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو وه.

**سميعي** : وګورئ : سميعي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**ډاکټر محمد نبي صميمي**

په ۱۹۳۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې د کابل له دارالمعلمينو څخه او په ۱۹۶۲ز کال د کابل له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د طبيعي علومو د پوهنځي اسيستانت. په ۱۹۷۵ز کال کې د بن له پوهنتون څخه د دکتورا په درجې فارغ سو. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د کابل پوهنتون د کيميا د څانګې غړی. په ۱۹۸۲ز کال کې جرمني ته لاړ.

## نور بيا

**ډاکټر سيد موسی صميمي**

د سيد منور شاه زوی په ۱۹۴۵ز کال کې په کابل کې...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ